مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۳/۰۱

# د استاد رښاګل اریوبزي علمي فرهنګي هڅې

## او د کوچنیانو ادبیاتو ته يې پاملرنه

### څلورمه او وروستۍ برخه



**په دې مقاله کې به د استاد رښاګل اریوبزي بیوګرافۍ تر څنګ، لومړی د ده پر علمي شخصیت او په هېواد کې دننه او تر هېواد د باندې د ده پر ترسره کړو علمي فرهنګي کارونو رڼا واچول شي او بیا به په ځانګړې ډول د ده پر هغو هڅو وغږېږم چې ده د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې ترسره کړي دي.**

ښکلې ښکاره ده د استاد رښا ګل د زړکړو ځانګه ښوونه روزنه ده او خامخا دا مسلک له ماشومانو، کوچنیانو، ځوانانو او د نوي نسل له روزنې سره سر او کار لري. زه ډاډه یم چې استاد رښاګل د دې مسلک د یو متخصص په توګه که له یوې خوا په شعوري د کوچنیاو د سالمې روزنې په موخه دې خوارې برخې ته پاملرنه کړې ده؛ دغه راز يې پښتو ژبې ته د راژباړلو له پاره خامخا داسې کیسې انتخاب کړې دي چې د افغان ماشومانو او کوچنیانو له ذوق، سويې او روان سره مناسبې دي او افغان ماشومان او کوچنیان کولای شي له دې کیسو نه ښه انتباه ترلاسه کړي.

د دې خبرې کول اړین ګڼم چې استاد رښاګل په ژباړل شوو کیسو کې د دې له پاره چې د افغان لوستونکو له پاره د پوهېدو وړ وي او پوهېدل يې لوستونکو او اورېدونکو، په تېره ماشومانو او کوچنیانو ته اسانه وي، د کرکټرونو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نومونه یي بدل کړي دي او د کیسي د اصلي کرکترونو نومونه یي په افغاني نومونو بدل کړي دي. دغه راز د ځینو مذهبي حساسیتونو له مخې یي خینو مفاهیمو کي هم بدلون راوستی دی.

دلته به د استاد رناګل یوه ډېره لنډه راژباړل شوې کیسه راواخلم، لوستونکي کولای شي په خپله د کیسي د ژباړې د ژبې او محتوا په باب قضاوت وکړي:

## خوږه حلوا

## (د کوچنیانو له پاره لنډه کیسه)

یو وخت یوه غریبه او پاکه جلکۍ دخپلې مور سره یوازې اوسیده. دوی د خوړلو د پاره هیڅ نه درلودل. نو یوه ورځ دخوراکي توکود پیدا کولولپاره ځنګل ته ولاړه.

په ځنګل کي د یوې بوډۍ ښځې سره مخامخ شوه. بوډۍ د دې جلۍ په بیوزلۍ خبره وه، نو یوه کټوه یي ورته ډالۍ کړه او دایي هم ورته وویل چي که کټوې ته ووایې چي:

«کټوې، پخلی وکه،» نو دا کټوه به د ارزنوخوږه حلوا پخه کړي او بیا چي ورته ووایې:

«کټوې، نور بس کړه،» نو بیا به پخلی بس کړي.

جلۍ دا کټوه د ځان سره دخپلې مور لپاره کور ته راوړه. په دی توګه دواړه له غریبي او لوږې بیغمه شول او هر وخت به یي چي زړه وغوښتل خوږه حلوا به یي خوړله. کله چي جلۍ د یو څه وخت لپاره د کور څخه دباندی ولاړه، نو موریي کټوې ته وویل:

«کټوې، پخلی وکړه،» نو کټوې پخلی پیل کړاود جلکۍ مورځان په حلوا ښه موړ کړاوغوښتل یي چي کټوه دی نور پخلی بس کړ، خو نه پوهیده چي څه ورته ووایي، نو څکه کټوه په پخلي لګیا وه، حلوا دکټوی تر خولي را پورته شوه، مګر پخلي ته یي دوام ورکړ، تر دیګ راتوی او پخلنځی ته راسر شوه او پخلنځی تری ډک شوه، بیا ټول کور،ورپسي دوهم کور، تر دې وروسته کوڅي ته را ووته. ټوله کوڅه هم د خوږې حلوا څخه ډکه شوه. داسي ښکاریده لکه چي دې کټوې ټوله دنیا مړه ول اود لوږې او بیوزلۍ ختمول غوښتل. هیڅ څوک نه پوهیدل چي څه رنګه د ځان سره مرسته وکړی.بالا خره کله چي یوازې یو کور پاتې و، جلۍ کورته راغله او کټوې ته یی وویل:

«کټوې، بس کړه،» نو کټوې نور پخلی بس کړ. هر چابنار ته تر تګ دمخه اول ځان په حلوا موړاوه.»

په دې کیسه کي د ماشوانو او کوچنیانو رنګیني او وړې دنیاګی ته ښه پاملرنه شوې ده او ماشومانه خیالونه ښه په کي انځور شوي دي.

دا هم د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د رناګل اریوبزي د ژباړې یوه بېلګه:

## هوښیارخان د بخت په څپو کي

## (د کوچنیانوله پاره لنډه کیسه)

هوښیارګل د خپل بادار سره ۷ کاله کار وکړ، نو یوه ورځ یي ورته وویل:« باداره! زما وخت پوره شوی دي، اوس غواړم چي بیرته خپل کور او مور ته ولاړشم. ما ته زمامعاش راکړه.» مالک ورته وویل چي.« تا زما سره په رښتیا او په اخلاص کار وکړ. څنګه چي کار هغسې معاش.» ده نوکرته د سرو زرو یو غټ غونداری ورکړ، چي د هوښیارګل د سر په شان غټ و. هوښیارګل د جیب څخه دسمال راوایست او د زرو غونداری یې پکې وپیچې، پرا وره یی کښیښود او د کور په لور روان شو. دي ګام په ګام روان و چي په مست آس سپور تازه او خوشال سړی یی تر نظر تیرشو . هوښیارګل په جګ اوازووېل:

«آخ، دآس سپرلی څه ښه شی دی ، څوک داسي پرکښېني، لکه چي په چوکي ناست وي، پښي یي د ډبرو سره نه موښلي، بوټونه یی نه زړیږی،اوهیڅ نه پوهیږی چي څنګه وړاندي روان دی.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

پر آس سپاره چي دا خبره واوریده نو ودرید اوور ږغ یی کړ:

«ای هوښیارګله! دا ته ولې پیا ده روان یې؟»

هوښیارګل په ځواب کې ورته وویل:

« آخ، زه مجبور یم چي دا غونډاری ترکوره ورسوم، دا خو سره زر دي، زه د ده له لاسه خپل سرسم سیده نشم نیولي او اوږي مي هم ترې خوږیږی.»

پر آس سپور سړی ودرید او هوښیارګل ته یي وویل:

«ته پوهیږي چي څه؟ موږ به دا خپل شته سره بدل کړو. زه به دا خپل آس و تا ته درکړم او ته دې خپل غونډاری ما ته راکړه.»

هوښیارګل ورته وویل چي:

« دا کار به د زړه له کومي وکړم، خو دا هم باید تا ته ووایم چي ته باید دغه د زروغونډاری پرخپلو ا وږو یوسي.»

د آس **ځغلونکی راکښته** شو، سره زر یي واخیستل، او د هوښیارګل سره یي پر آس باندي د سپریدو په وخت کي مرسته وکړه، جلب یي ټینګ په لاس کي ورکړ او ورته ویې ویل چي:

« که وغواړي چي ښي خوا ته وګرزي، نو ته باید په ژبه په ټیټ اواز هوپ، هوپ وکړی.»

د هوښیارګل روح خوشال او تازه شو، دی په آس سپور او په ارامي ترې روان شو. خو څه وخت وروسته په دې فکر کي شو چي آس یي باید یو څه نور هم چټک شی، نو د هوپ، هوپ ناره یي پورته کړه. آس دومره تیز شو، چي هوښیارګل یي، مخکي تردې چي خپلې تیروتني ته یي پام شی، په هغه کنده کي راوغورځاوه، چي د سرک او پټیو تر منځ پرته وه. که چیرې یو بزګر، چي خپله غوا یي تر مخه کړې وه، په دې وخت کي نه وای رارسیدلی، د آس مخه یي نه وای نیولې، نو هغه به هم دې کندې ته لویدلی وای.

هوښیارګل بیرته خپل ځان سره راټول کړ او پر پښو ودرید،خو ډیر په غوسه او بدحال و او بزګر ته یي وویل:

« دا دآس سپرلی خو یو ډیر بدمزه شی دی، په تیره بیا چي ځوک له یوه داسي ټټو سره ګیر پاتی شی، دا ټټو ځوک په دومره قوت له ځانه لیری غورځوی، چي نږدې وی مغزی چیې مات شی، بیا به هیڅکله په داسي ټټو سپور نشم. ما د ستا غوا خوښه ده، چي سړی ارام پسې روان وی او سربیره پردې هره ورځ شیدې، کوچ او پنیر هم ترې تر لاسه کوی، د څه په بدل کي به زه د یوی داسي غوا څښتن شم؟»

بزګر ورته وویل:

«اوس نو چي ته غوا ته دومره ډیر خوشالیږی، نو زه حاضر یم چي غوا مي ستا د آس په بدل کي درکړم.»

هوښیارګل په زښته ډیره خوښي هوکړه ورسره وکړه؛ بزګر پر آس سپور شو او په بیړه ترې وځغاست. هوښیارګل خپله غوا تر مخه کړه او د بختوری سودا په سوچ کي و: «که زه اوس یوازی وچه ډوډی ولرم ــ او دا خوهیڅ نشی کېدای چي ډوډی به هم نوی ــ نو څومره مي چي زړه وغواړی د کوچو او پنیر سره به چیي خورم، او که تږی شوم، نوغوا به ولویشم او شیدې به وڅښم. ای زما زړګیه، نور نو ته څه غواړی ؟»

کله چي پر لار یوه رستورانت ته ورسید، هلته تم شو او په خوراک سرشو، د غرمي او ماښام ډوډی چیي دومره وخوړه، چي څه چیي په جیب کي لرل، ټول چیي په ډوډی ورکړل، او په وروستیو پاتی شوو مېده پیسو چیي ځان ته شربت راوغوښته. تردې وروسته چیي غوا د خپلې مور د کلی په لور روانه کړه ځونه چي غرمه رانیږدي کېدله، ګرمي هم هغومره ډیریدله.

هوښیارګل په یوه چمن کي روان و او یو ساعت لارنوره هم ور ته پاتی وه، ډیره ګرمي چیي وشوه، او له تندې چیي ژبه په زامه پوری ونښته. هوښیارګل پدې سوچ کي وچې، «د دې تندې او ګرمي چاره کولې شم، غوا به ولویشم او په شیدو به چیي ځان تازه او ځواکمن کړم.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

غواچیي پر یوه وچه ونه پورې وتړله، خپله خولې ئې ترلاندې کړه، که هرڅومره هڅه چیي هم وکړه ، غوا یو ځاځکئ شیدي هم ورنه کړي، ځکه چي دې دغوا د لویشلو په چل نه پوهیده، نوغوا بې حوصلې شوه، د شا په پښه چیي د ده پر سر داسې سخته لګت ورکړه، چي پر ځمکه ولوید او ډیر وخت نه پوهیده چي چرته پروت دی. له نیکه مرغه پدې ترڅ کي یو قصاب پر دي لار راغی، چي یو وړوکي ورې چیي په لاسی ګاډې کي اچولې و او ناره چیي کړ، «دا څه مکارې ده!» او د هوښیارګل سره چیي په را پور ته کېدو کي مرسته وکړه. هوښیارګل ټول هغه څه ورته بیان کړل، چي ورته پیښ شوی ول. قصاب ورته خپل بوتل ورکړ او وچیي ویل، «لومړی یو څه وڅښه او دمه وکړه. داغوا شیدي نه درکوی، ځکه چي زړه ده، او یوازې د بوڅه بار وړلو او یا د حلالولو لپاره ښه ده.»

هوښیارګل د خپل سر وینسته راکښ کړل او وچیي ویل،«هی هی، چا دا فکر کاوه! ښه به دا وای چي سرې دا حیوا ن په کور کي حلال کړی وای، خو پوښتنه دا ده چي غوښه به چیي څرنګه وی! ما خو د غوا غوښه نه خوښیږی، او خوند نه راکوی. هو، که څوک داسې یو ځوان ورې ولرې، نو دا بیا بل ډول خوند لرې او ساسیچ به هم ورسره وی.»

قصاب ورته وویل چي:

«واوره، هوښیارګله، ستا د خوښي لپاره زه دا ورې د غوا په بدل کي درکوم.»

هوښیارګل وویل:

«خدای دي تا ته د دي دوستی په بدل کي اجر در کړی.»

هوښیارګل بیا روان شو او پدې سوچ کي و چي تر اوسه هر څه د ده په خوشالی او ګټه تمام شول، خو دلته د یوی بلې ناراحتی سره مخامخ شو، خو ډیر زر بیا هر څه سم شول. تردې وروسته یو هلک په مخه ورغی، ده یوه ښکلې سپینه هیلی تر ترخګ لاندې نیولې وه. دواړه د لارې پر سر، سره ودریدل او یو بل ته چیي وخت ورکړ. هوښیارګل د خپل بخت کیسه بیان کړه او هلک ته چیي دا وویل چي په څه ډول چیي هر وار د ځان په ګټه سودا وکړه.

هلک ورته وویل چي دا هیلی چیي د کوچنی د تمعید جشن د ډوډې لپاره را وړی ده. ده هیلی له وزرو ونیوله او هوښیارګل ته چیي وویل:

«یو ځل چیي پورته کړه، چي څومره درنده ده. اته اونی مي ښه خوراک ور کړی دي، که څوک د دې کباب وخوري، نو د خولي د دواړو کونجو نه به چیي غوړی را وڅاڅی.»

هوښیارګل هیلی په یوه لاس وتلله او وچیي ویل، هو، دا ښه درنده ده، خو زما ورې هم وړوکي ورې نه دی.» په دې ځای کي هلک په پریشانی هرې خوا ته وکتل ، سر چیي هم وخوځاوه او وچیي ویل:

«واوره، دا ستا دورې موضوع ماته سمه او پاکه نه ښکاری، په هغه کلي کي چي زه ترې راغلم، د یو چا ورې غلا شوی و، زه ویریږم، زه ویریږم، چي دا ستا ورې به همغه ورې وی؛ دا به ستا لپاره ښه نه وی، که چیرې دې له دې ورې سره ونیسی، ترټولو کمه جزا به دې داوی، چي یوی تورې څا ته به دې وروغورځوی .»

خوارکي هوښیارګل ډیر وډار شو او وچیي ویل:

«اخ خدایه! د دغه مصیبت په وخت کي زما سره مرسته وکه!» د ه هلک ته وویل:

چي ته خو ښه خبرچیي او هم دلته بلد یي، زما څخه دغه ورې واخله او خپله هیلی دي ما ته راکه.»

هلک ورته وویل چي:

«زه به دا خطر په ځان ومنم، خو ستا د دې بدبختی مسؤلیت په غاړه نشم اخیستلی.»

ده رسی په لاس کي ونیوله او په بیړه چیي ورې د ځان سره په یوه څنګځنی لا راکښ کړ. پدې توګه هوښیارګل ځان له غمه خلاص کړ، هیلی چیي د تخرګ لاندې ونیوله او د کور په لور روان شو. ده له ځان سره ویل چي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

«که سم فکر وکړم نو په دې راکړه ورکړه کې مې ګټه وکړه، لومړی خو کباب دې، وریسی دا یو عالم غوړ، چې د کباب کېدو په وخت کې به تری را وځاځی، چې د کال د بوی ځلوریزی په اوړدو کې ـ دهیلی غوړو ډوډی ـ لپاره بس کېږی. پدې به مې مور ځومره خوشاله شی.»

کله چې دې وروستی کلی ته ورسید، چې ګوری هلته د بیاتیو تیره کوونکي د کراچې سره ولاړ دی، ځرخ چیې تیت نری اواز کاوه او ده ورسره سندری کولې:

ز ه بیاتی تیری کوم او تیز یی ځرخوم
او زما بالا پوښ و باد ته ځوړوم

هوښیارګل ودرید او په مینه یې ورته کتل؛ بالاخره په خبرو راغی او ورته و چیې ویل:

«ته ښه او سوکاله ژوند لری، ځکه کله چې بیاتی تیری کوی، ورسره مست او خوشال هم چیې،»

بیاتی تیری کوونکي په ځواب کې ورته وویل چې:

«هو! دلاس کسب په حقیقت کې د سرو زرو ځمکه ده، د بیاتیو د یوه تکړه تیره کوونکي جیب له پیسو خالی نه وی، هر وخت چې جیب ته لاس کړی، پیسی پکې مومې. اوس راته ووایه چې تا دا ښکلی هیلی چرته راونیوله؟»

«دا مې را نیولې نه ده، د خپل وری په بدل کې مې تر لاسه کړه.»

«او دا وری دې له کومه کړ؟»

«د وری په بدل کې مې غوا ورکړه.»

«او غوا؟»

«د غوا په بدل کې مې آس ورکړ.»

«او آس؟»

«هغه مې د سرو زرو په غونداری، چې زما د سر په شان غټ و، واخیست.»

«او دا سره زر؟»

«ای، دا مې د اوو کالونو د کار تنخوا وه.»

د بیاتیو تیره کوونکي ورته وویل:

«تاسی په هره سودا کې ښه ګټه کړی ده، خو تاسی داسې هم کولې شی چې د پیسو ترناوی لاندې ودریږی، او پیسی به پخپله په جیبو کې در توچیږی.

هر سهار چې راپورته کیږی، بخت به درسره مل وی.»

هوښیارګل تري وپوښتل چې:

«دا ځرنګه امکان لری؟»

«تاسی باید زما په څیر د بیاتیو تیره کونکي شی، دا کار یواز یوی تیره کوونکي ډبری ته اړتیا لری او نور کار چیې ټول پخپله سمبږی، زه دا ډول ډبره لرم، که څه هم یو څه زیانمنه شوی ده، خو زه چیې هم په بدل کې له تا نور څه نهِ غوارم، یوازی دا هیلی راکړه، آیا غواړی چې دا سودا وکړی؟»

هوښیار ګل ورغبرګه کړه چې:

«پدې ګی خو پوښتنې ته کومه اړتیا نشته، پدې سودا به زه د ځمکې پر سر تر ټولو نیکبخت انسان شم، ځکه پیسی به لرم او هرځل چې جیب ته لاس کړم، خالی به نه وی، نور به د څه لپاره ځور او اندېښنه کوم؟»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هیلی چیي ورکړه او تیره چیي ترې واخیسته.

د بیاتیو تیره کونکي یوه بله عادي ډبره چي تر ځنګ چیي په ځمکه پرته وه، راپورته کړه او هوښیارګل ته چیي ورکړه او وچیي ویل چي:

«دا ډیره د کار ډبره ده، ته پدې مېخونه ټکولي شې اوهم زاړه کاره مېخونه سمولي شې. دا هم درواخله، خو ښه به چیي ساتی.»

هوښیارګل دواړه ډبرې په ځان بار کړې او په خوشال زړه ترې روان شو، سترګی چیي له ډیرې خوشالی ځلیدلی او ناره چیي کړه چي:

«زه له بخت سره دي دنیا ته راغلی یم، د یوه نیکمرغه کوچنی په څیر مي ټولي هغه هیلی تر سره کېږی چي، لرم چیی.»

دا چي سهار د وخته په پښو شوی و، نو ورو، ورو ستړی شو او له لوږی هم په تکلیف شو، ځکه څه چیي چي در لودل، ټول چیي دغوا درانیولو په خوشالی کي وخوړل. اوس نو لا په تکلیف پر لار تلی شو او مجبور و چي شیبه په شیبه ودریږی او دمه وکړی، تیږی هم په درندې شوی او ډیر چیي ستومانه کړه.

اوس نو پدې ارمان شو، چي کاشکي د دې ډبرو له بار نه ازاد شوی وی. له ډیری ستومانی چیي دهلزون په ښوچیږدو ځان هلته د پټیو په منځ کي یوی څا ته ورساوه، ترڅو چي هلته دمه وکړی او د څا په سړو اوبو یو څه ځان تازه او تنده ماته کړی. د دې لپاره چي ډبرو ته زیان ونه رسیږی، نو په ډیراحتیاط چیي د ځان تر ځنګ د څا په غاړه کېښودې، بیا دی هم کښیناست او د څښلو لپاره په اوبو ور ټیټ شو، پام چیي نه وچي ځنګ چیي په ډبره ولګید او دواړه ډبرې ښکته په ځاکي ولویدې. کله چي هوښیارګل ډبری څا ته د لویدو په حال کي ولیدې، له خوشالی په غورځنګو شو او لوی خدای ته په سجده او په ګونډو شو، په سترګو کي چیي له خوشالی اوښکي راغلی او په زړګونو شکرونه چیي ادا کړل. دې خو له لوی پروردګار نه پدې ډیر راضی و چي، پخپل رحمت چیي، بیله دې چي دې لاس او پښه وخوځوی، د دې درندو ډبرو له باره ازاد کړ. هوښیار ګل د بخت په څپو کي لاهوو او ناره چیي کړه چي:

«د ځمکي پر مخ ترما نیکبخت انسان بل نشته.»

په خوشال زړه، د ډبر له درانده بار نه په ازادو متو، په ټوپونو او غورځنګونو چیي ځان کور او مور ته ورساوه.

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ